# زېری

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنځنۍ(پنجشنبه) د زمري ۹ - ۱۰مه ګڼه، پرله پسې (۴۴۹-۴۵۰) مه ګڼه، د ۱۴۰۴ل کال د زمري ۳۱مه، د ۱۴۴۷هـ.ق. کال د صفر ۲۷ مه او د ۲۰۲۵م.کال د اګست ۲۱مه


الٰهي! توفيق د حمد سبحاني را
ذاکر ژبه، ذاکره ژبه جنتي را

په ژړا ژړا فريده! ورته ژاړه
پوخ يقين، ايمان پياوړی او قوي را

شيخ فريدالدين محمود

# ګرامري جوړښت (۱) برخه


ژباړه او لنډيز: څېړنپوه مولا جان تڼيوال


ګرامري جوړښت د يوې ژبې د خورا مهمو اړخونو څخه ګڼل کېږي. لا په Altertum کې ډېر موضوعات وليکل شول چې په هغوی کې د خپل وخت د مهمو ژبو ګرامرونه وپلټل شول. د التړتوم ګرامري دود د اساس په توګه مشابه موډرن کارونه سر ته ورسول. په ښکاره او څرګند ډول نني مېتودونه د زړه او پخوانيو مېتودونو په نسبت ډېر علمي دي.

زوړ ګرامر يواځې Deskriptiv تشريحي و او هغه ژبې به يې پلټلې چې په دفتري نورمونو باندې به چلېدې په همدې اساس يې ورو- ورو پرمختګ وکړ او په همدې علت د ګرامري جوړښت انکشاف ته لږ پاملرنه وشوه. نن علم هغه بې ليکدوده ژبې هم څېړي چې په ژبني پرمختګ باندې د پوهېدو په موخه ډېرې مهمې نخښې نښانې او معلومات وړاندې کوي. زاړه ګرامرونه د اعتبار وړ وو، او په هغه وخت کې يې په هغو يادو شويو نورمونو باندې تکيه کوله تر څو د تېرو نسلونو څخه ورسپارل شوي اصول بې لاس وهنې خپل کړي. دلته د ټولو هغو قوانينو په برخه کې معرفت نيمګړی و، چې د هغوی په اساس ژبې پرمختګ کوي. نننی ګرامر هم تشريحي دی او په لومړۍ ليکه کې په تاريخ او د ژبې په پرمختګ باندې اتکاء کوي. دا يواځې په دې سره نه شول ممکن چې موږ د ژبنيو فکټونو په باره کې د پخوا څخه د راپاتې شوي دود او دستور په باره کې حکم کوو، بلکې موږ کولای شو، چې تاريخي- مقايسوي مېتودونه وکاروو. پخواني يا زاړه ګرامر به يواځې مورفولوژي، نحوه او Orthographie څېړلې. په دې وخت کې مورفولوژي د ډېرې سترې معنا درلودونکې وه. نن ورځ اورتوګرافي ته د ګرامر د يوې برخې په سترګه نه کتل کېږي. په دغه وخت کې ډېر لوی او د پام وړ توپير دا دی، چې څنډن ګرامر هېڅکله هم تاريخ ته پاملرنه، نه کوله حال دا چې نن ورځ ګرامر په لومړۍ ليکه کې يو داسې تاريخي علم دی چې په دې وروستيو کالونو کې د تشريحي څېړنو ډېرو زياتو مېتودونو پرمختګ پکې کړی دی.

موږ اوس وليدل چې ګرامر کېدای شي چې تاريخي، تاريخي- مقايسوي او تشريحي وي. تاريخي ګرامر په مطلق ډول مقايسه کوونکی نه دی، په دې چې سړی کولای شي چې د يوې ژبې ګرامر له دې پرته چې د بلې ژبې د ګرامر سره يې پرتله کړي په تاريخي لحاظ وپلټي (دلته د يوې ژبې بېلابېل پړاوونه چې ژبه ترې تېره شوې ده څېړل کېږي.) دا جوته ده چې سړی هغه وخت يو ګرامر مقايسوي ګرامر بولي چې خپلواني ژبې له نظره تېروي تر څو د هغوی تاريخ روښان کړي. په واقعيت کې د ناخپلوانو ژبو مقايسوي ګرامر هم شته د ساري په ډول يو څوک د رومانيايي ژبې ګرامر د هنګري ژبې د ګرامر سره مقايسه کوي، خو دلته خبره په ژبپوهنه باندې نه راځي. د چارو يا کارونو دغه ډول تش د پيداګوژيکي موخو لپاره ترسره کېږي تر څو له دې لارې د پردۍ يا بهرنۍ ژبې د تدريس مېتودونه لا پسې غني کړي. په دې وجه خبره په خپلوانو ژبو باندې نه راچورلېږي او دا مقايسه نشي کولای چې د مقايسه کوونکو ژبو د ګډ (شريک) تاريخ د رڼا کولو لوري ته لارښودنه وکړي.

ګرامر د مورفولوژي او نحوې څخه جوړېږي، لکه څنګه چې ګرامر په عين وخت کې په وينا او خبرو کې د وييونو د استعمال او کاروني د اصولو ټولګه او د همدې اصولو مطالعه ده مورفولوژي او نحوه هم همزمانه د ژبې برخې او د دې برخو مطالعه ده. مورفولوژي د وينا برخې، ۲مخ

# د کليله و دمنه پښتو ژباړې (۱) برخه


ل: پروفيسور سيال کاکړ

ژ: څېړندوی بشرمل زرغون


د سنسکرېټ، پهلوي، پارسي، پښتو، روسي، عربي، سُرياني، ترکي، مالايايي، يوناني، هندي، هسپانوي، چک سلواکي، ايټالوي، الماني، انګليسي او... ادبياتو په تاريخ کې به د (کليله و دمنه) کتاب نوم تلپاتې وي، په ړومبي ځل دغه ارزښتناک اثر (ويشنو شرما Wishna Sharma) د ماشومانو د روزنې او پالنې لپاره په هند کې وکښه او د کتاب نوم يې (پنچاتنترا= پنج تنتر Pancha Tantra) کېښود، په همدې اساس پورتنی اثر د کتابونو په منځ کې د (پنچا کيانه) او (کرتکا دمنګا) په نامه هم ياد شوی، دغه اثر د ارزښتمنو، په زړه پورې او زړه راښکونکو داستانونو درلودونکی دی، ليکوال د ياد کتاب سياسي او ټولنيز مسايل د ژوو په ژبه په ښه طريقه بيان کړي دي.

په همدې ترتيب کليله و دمنه د زده کړې او پالنې له اړخه يو ګټور او ارزښتمن کتاب دی، په ټول هند کې يې اوځارتوب وموند او ورپسې يې د ايران خاورې ته هنګامه ورسېده، په همدې اساس دغه له ارزښته ډک کتاب د نوشېروان په دوره کې (۵۳۱- ۵۷۹ هـ ق) د يوه طبي ډاکتر چې (برزويه) نومېده؛ ايران ته راوړ او په پهلوي ژبه يې وژباړه، نوموړي خپلې ژباړې ته (کليلک و دمنک= کلېلګ و منګ) نوم ورکړ چې ورپسې همدغه نوم يې په پهلوي ژبه د (کليله و دمنه) په بڼه واړوه.

کله چې برزويه (پنچاتنترا) په پهلوي وژباړه؛ تر د وروسته عبدالله بن مقفع ياد کتاب له پهلوي نه په عربي وژباړه، دغه ژباړه ډېره مهمه او ډېرې زياتې ګڼې يې درلودې؛ همدارنګه عبدالله بن هلال اهوازي د دويم ځل لپاره (کليله و دمنه) په عربي وژباړه؛ البته دا ژباړه د ليکوالۍ د سبک له مخې د مقفع ژباړې ته نه شي رسېدی.

بايد وويل شي چې د عبدالله بن مقفع د ژباړې هنګامه ډېرو اسلامي هېوادونو ته ورسېده، په همدې اساس زيارکښو ليکوالو او شاعرانو (کليله و دمنه) په خپلو ژبو له عربي متنه وژباړله، په همدې ترتيب د سامانيانو د دورې درباري شاعر ابو عبدالله بن جعفر رودکي د ړومبي ځل لپاره (کليله و دمنه) په پارسي منظومه وژباړله، ورپسې د غزنويانو د دورې يوه شاعر ابوالمعاني حميدالدين نصرالله بن محمد بن عبدالحميد د بهرامشاه غزنوي په امر په نثر وژباړله او بيا يې د همده نامه ته منسوب کړه؛ همدارنګه بهاوالدين احمد بن محمود، د قانعي په تخلص نوملي (کليله و دمنه) په خپل فکر په پارسي نظم وژباړله چې په همدې ترتيب د سلطان بايقرا په دوره کې مولانا حسين واعظ کاشفي سبزواري بيا وژباړله او ياده ژباړه يې په خپل نامه په (انوار سهيلي) ونوموله، پټه دې پاتې نه وي، د جلال الدين اکبر ګورګاني په دوره کې ابوالفضل په هند کې کليله و دمنه د (عيار دانش) په نامه په پارسي وژباړله.

هو!! د کليلې و دمنې د ژباړو دغه لړۍ په هند کې د ګورګانيانو په دوره کې پای ته و نه رسېده؛ بلکې تر نن ورځې دغه لړۍ ناپايه يونتيا لري او د ښاغلي حبيب الله رفيع په وينا په نولسمه پېړۍ کې د انګرېزانو په دوره کې د يوه ناپېژانده ليکوال له خوا د کليلې و دمنې ژباړه د (نګار دانش) په نامه هم تر سره شوې ده.

استاد رفيع د (دبير دانش) په سريزه کې ليکي:

((د افغانستان امير عبدالرحمن خان په »۱۳۱۷ هـ ق، ۱۸۹۹ ز « د کاشفي له »انوار سهيلي« نه د »ايينه جهان نما« په نامه د دې کتاب لنډيز وکړ، ژبه يې ورسمه کړه او په همدې کال په »۳۱٦ « مخونو کې د کابل ۳مخ

# د سپين بغاوت منلی شاعر


نعمت الله صديقي


د هرې ژبې و ادب د تخليقي روايت او ملي احساس يو ډول طبعي ظرفيت وي، چې ليکوال او پنځګر يې د خاصو مواردو او ادبياتو د تخليق ترڅنګ عام يا ولسي او ملي ادبياتو ته هم لاره کوي، مطيع الله تراب د ورستۍ کټګورۍ د ادبياتو هغه مخلوق او باظرفيته ملي شاعر او ناظم و، چې د ادبي او منظوم غږ اساس يې د خپلې خاورې خوشبو او د خلکو احساس او شعور و.

دی که څه هم ما مخامخ نه و لېدلی؛ خو د خپل سرشاره او ياغي مزاج له مخې مې په ورستيو کې لوستلی او اورېدلی و، دا يې ځانګړنه وه چې په هر سياسي دور او ورځنيو سياستونو يې ښه په زغرده او ښکاره خبره کولای شوه، غږ او خبره يې بې سانسوره وه، د خپل شعر او خبرې لپاره يې خلک پيدا کړل يا خلکو د همداسې خبرو لپاره دی پيدا کړ؛ چې هر څه و؛ خو د وخت حاکمو او واکمنو ته په رسا او مخامخ خبرو مشهور او د ولس د مينې نښه شو. د تراب جنازه د همداسې يوې ولسي مينې ثبوت و، له خوست د سلګونو موټرونو پر بدرګه او له کابله په هلکوپتر کې تر ننګرهاره او بيا خوږيانو ته په اولسي هجوم د ده جنازه وړل دا ثابتوي چې دا جنازه خلکو يوازې د تراب نه، بلکې د خپل غږ جنازه ګڼله؛ بېخي لکه هغه د ورستيو شهيدانو د جنازو ملي جنجونه چې وي، زموږ د ورستيو ملي شهيدانو په جنازو کې خلک د خپلو بې وسيو او دوی ته د شهامت او مېړانې په وجه د سر ټيټی او سلام خراج او عقيدتونه وړاندې کوي.

د يو اديب او شاعر لپاره په ورځني سياست او موجوده شرايطو خبره کول، څکه سخت او ستونزمن وي، چې خلک د طرفونو او خواو د اختلاف په وجه دای هم په يوې خوا او طرف کې ولاړ غواړي، چون ادب د يوه ملي او د ټولو خلکو لپاره د يوه او هر اړخيز ډسکورس يا د مکالمې او خبرې د مېز زمينه برابروي، څکه نو اديب هم د ټولو په طرف د يوه عمومي او ملي طرف او خوا ته

> ادب د ټولو خلکو لپاره د يوه او هر اړخيز ډسکورس يا د مکالمې او خبرې د مېز زمينه برابروي څکه اديب د ټولو په طرف د عمومي او ملي طرف او خوا ته ولاړ وي.

ولاړ وي، له شاعر او اديبه د يو طرف غوښتنه له هغه د لوډسپيکر يا ميکرافون د جوړېدو غوښتنه ده، هغه چې خبره کوي د کوم ګوند، سياست او فکري تمايله سره د مشخص کېدو وراخوا ټولو ګوندونو، سياستونو او فکري نهادونو ته مخاطب وي او همدا د ټولو لپاره مخاطب کېدل او خبره کول يې د ملي دريځ او طرف په خوا درېدل دي.

دا اصلاً شاعر او اديب په يوه ګوند، سياست او فکري محدوده کې بندول دي؛ حال دا چې دوی په خپله د همداسې يوه فکر و سياست او نظريې بنديان وي او دوی شاعر له ځانه سره يو ځای بندي کول غواړي. تراب چې بنديوانۍ خلاص و يا په بله مانا له دغسې ۳مخ

# کاروني (تطبيقي) ژبپوهنه (Applied Linguistics)


رحمت الله کټوازی


ژبپوهنه ژبنی ساينس دی چې د ژبې د مختلفو داخلي او باندنيو اړخونو څېړنه کوي. په دې ژبني ساينس (ژبپوهنه) کې ژبه ، د ژبې کارونه او اړيکې له مختلفو ؛ چاپېريالي (Environmental)، ذهني(Cognitive) او جنيټيکي (Genetic) فکټورونو سره څېړل کېږي. ژبپوهانو ژبپوهنه په مختلفو څانګو او څانګوړو وېشلې ده چې د د وېشنې لپاره يې خپل بېلابېل دلايل وړاندې کړي. يو ډول وېشنه يې پر (Micro linguistics) او (Macro linguistics) څانګو سره شوې ده. د ژبپوهنې (Micro linguistics) څانګه د ژبې له داخلي جوړښتونو سره سر و کار لري، او تر ډېره د ژبې پر داخلي چوکاټ او سيستم بحث کوي؛ چې غږ پوهنه (Phonology)، ويي پوهنه (Morphology) ، غونډله پوهنه (Syntax)،مانا پوهنه (Semantics) او کارونپوهنه (Pragmatics) ددې څانګې په څانګوړو کې راځي. د ژبپوهنې (Macro linguistics) څانګه د ژبې له داخلي جوړښتونو او دنني ژبني سيستم ور هاخوا، ژبه، د ژبې کارونه او اړيکې يې له نورو دماغي (Neural) ، ټولنيزو (Social)، سايکولوجيکي (Psychological)، تطبيقي (Applied)، تاريخي (Historical) او نورو فکټورونو سره څېړي چې د ژبې خورا ارت سايکل (کړی) تشکيلوي.

ژبپوهانو د ژبپوهنې بله وېشنه په الواکي ژبپوهنه (Theoretical Linguistics) او کاروني ژبپوهنه (Applied Linguistics) سره کړې ده. الواکي ژبپوهنه (Theoretical Linguistics) له کاروني ژبپوهنه (Applied Linguistics) سره جوت توپير لري ،چې لومړۍ هغه يې د ژبو متعلق د عموامياتو پر څېړلو تمرکز کوي چې دغه تمرکز ممکن صرف تر يوې ژبې پورې منحصر نه وي، بلکه د نړۍ پر عمومي ژبو د تطبيق کېدو وړ وي او دوهمه هغه بيا د الواکي ژبپوهنې له خوا وړاندې شوې نظريې په واقعي نړۍ کې پلي کوي. د ژبپوهنې له يادو شويو څانګو نه زموږ د بحث تمرکز پر کاروني ژبپوهنه (Applied Linguistics) راټول دی چې په دې ليکنه کې به هڅه وشي چې لوستونکي له پېژند (تعريف)، د تمرکز له ساحې، په نني ژبپوهنه کې ځای او نورو اړوندو مسئلو خبر شي.

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شول، په نظري ژبپوهنه کې د ژبې اړوند مختلفې نظريې شتون لري چې تر ډېره د يوې نظريې په شکل کې وي او يادې نظريې د نړۍ په نورو ژبو کې هم د کاروني او تطبيق وړ وي. اما کاروني ژبپوهنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د نظري ژبپوهنې له خوا وړاندې شوې نظريې په عمل کې پلي کوي. يعني د تاريخ په اوږدو کې، کاورنې ژبپوهنه د تيوري او پرکټيس (عمل) تر منځ د پيوستون يوه برخه پاته شوې ده. مانا دا چې د يادې څانګې ژبپوهانو هڅه کړې ده چې يوه ژبنيزه نظريه (Theory) څرنګه په عمل (Practice) کې پلي کړي، او يا يې هم د پلي کېدو جوګه وګرځوي. ياني دا چې هغه نظريې (Theories) چې د ژبې د مسئلو متعلق رامنځته شوې وي، د کاروني ژبپوهنې (Applied Linguistics) له خوا د ژبې په واقعي نړۍ کې پلي کېږي. د ژبې دغه عملي کېدل صرف د ژبې اړوند تر نظريې پورې محدود نه وي، بلکه کاروني ژبپوهنه او د يادې ژبې ژبپوهان ورسره نور تړلي: ټولينز، کلتوري، اروايي، ذهني... فکټورونه او له دې فکټورونو سره د ژبې اړيکې څېړي او هڅه کوي چې د ژبې نظريې ته ټول يادشوي چوکاټونه برابر کړي تر څو د ژبې نظريه يا نظريې په سمه توګه عملي کړل شي.

دا چې کاروني ژبپوهنه (Applied Linguistics) د ژبې له الواکي (تيوريکي) اړخ سره نه، بلکه له عملي (Practical) اړخ سره کار لري، نو د ژبپوهنې ياده ساحه تر ډېره دا څېړي چې ژبه د اړيکو، ټولنيزې کاروني، او د يوه خاص ټولنيز ګروپ وګړو تر منځ څرنګه صورت ۲مخ

## کاروني (تطبیقي)...

نیسي او یا هم څرنگه باید صورت ونیسي. معنا دا چې که چېرته د ژبې عملي اړخ په سمه توگه عملي کېدو کې خنډونه شتون ولري، نو د کاروني ژبپوهنې ژبپوهان ورته مناسبې لارې چارې لټوي تر څو ژبه په عملي ډول سره د ټولنیزو اړیکو او ټولنیزې کاروني لپاره سمه وکارول شي.

میلر (۲۰۰۳) د کاروني ژبپوهنې (Applied Linguistics) د تاریخي شالید په هکله لیکلي، چې د ژبپوهنې د یادې برخې تاریخ شاوخوا ۱۹۴۰مو کلونو ته رسېږي، چې هغه وخت کې په امریکا کې ژبپوهانو د ژبې د عملي ستونزو (د گرامري جوړښتونو د تولید په وخت کې) او د ژبې د زده کړې لپاره د موادو د تیارولو په وخت کې تحلیلي میتودونه او تگلارې پر لاره واچولې (عملي کړې). نومورې وړاندي وایي چې د ژبپوهنې دغه اصطلاح په خپل تاریخي شالید کې د ژبې له تدریس نه را پیل شوه، چې په ۱۹۴۰ کلونو کې د امریکا د مشیگن پوهنتون په تطبیقي ژبپوهنه (Applied Linguistics) کې یو پروگرام پیل کړ چې له طریقه یې د ژبې استادان روزل، او تر هغې وروسته یې د (Language Learning: A Quarterly Journal of Applied Linguistics) تر نوم لاندې یو ربعه وار ژورنال هم چاپاوه، چې تر ډېره پکې د لومړۍ او دوهمې ژبې د تدریس اړوند مقالې خپرېدې.

کرامش (۲۰۰۰) په خپله څېړنیزه مقاله کې د کاروني ژبپوهنې په اړوند لیکلي، چې د ژبپوهنې یاده څانگه په اروپا کې په شاوخوا ۱۹۵۰ کلونو کې د ژبپوهانو او مربیانو (روزونکو) له خوا پیل شوه، چې د نومورې په اند، دغه پیل یې څوبعدي پیل وو. مانا دا چې کاروني ژبپوهنې ته د یو پراخ فیلډ په ډول کتل کېدل چې د ژبې د تطبیق (عملي کېدا) ټول اړخونه یې په بر کې نیول. نومورې وړاندي وایي، چې په دې څو بعدي فیلډ کې صرف د لومړنۍ او دوهمه ژبې د زده کړې متعلق مسئلې شاملې نه وې، بلکه؛ ژبه او رسنۍ، ژبه او حقوق، د ژبې پلان او پالیسي، ترجمه او ژباړه (شفاهي او لیکلې)، ژبه او ټیکنالوژي، نغوت-ژبه (Sign language)... او نورې برخې هم په دې څو بعدي چوکاټ کې شاملې وې. کرامش (۲۰۰۰) وړاندي په خپله څېړنیزه لیکنه کې ذکر کړي، چې په کال ۱۹۵۹ کې په واشنگټن کې د کاروني ژبپوهنې د مرکز او د امریکا د کاروني ژبپوهنې د ټولنې (American Association for Applied Linguistics, AAAL) تر ایجاد وروسته د ژبپوهنې یادې څانگې ته په امریکا کې هم کار پیل شو.

ویډووسن (۱۹۹۰) چې د ژبې د تدریس د خورا نوي، موثر او ډېر کارېدونکي مېتود (Communicative Language Teaching) بنسټ گر هم بلل کېږي، د کاروني ژبپوهنې (Applied Linguistics) په اړوند وایي، " زما په اند کاروني ژبپوهنه (Applied Linguistics) له هغو کړنو او فعالیتونو څخه عبارت ده ،چې د ژبې له تدریس او زده کړې سره سر و کار لري او دا هغه کړنې دي چې د مشخصو کړنلارو او یا هم پیداگوژیکي قواعدو په عمل کې د پلي کېدا لټه کوي." نومورې وړاندي دې ته اشاره کوي چې د ژبې تیوري څرنگه کولای شو چې د تدریس او زده کړې له طریقه په عمل کې پلي کړل شي، چې د ژبې د مختلفو نظریو (تیوري گانو) د پلي کېدلو لپاره د تدریس او زده کړې مختلف میتودونه او کړنلارې پر لاره اچول شوي دي ،چې ژبه څنگه په عملي توگه سره صورت ونیسي، چې ځیني کړنلارې یې د ژبې د زده کړې په برخه کې ډېرې گټورې واقع شوي دي او ځیني یې بیا ډېرې گټورې نه دي واقع شوي: نو ځکه هم د ژبې د تدریس او زده کړې پخوانیو میتودونو او کړنلارو نویو هغو ته خپل ځای پرېښی او دغو نویو میتودونو او کړنلارو د ژبې د زده کړې او تطبیق په برخه کې خپل ځان ته ځای ته پیدا کړی. معنا دا چې په کاروني ژبپوهنه کې د ژبې د تدریس او زده کړې له طریقه ددې هڅه کېږي چې څرنگه ژبه په واقعي محیط کې د واقع کېدو او عملي کېدو جوگه وگرځوي.

کاروني ژبپوهنه له پیله تر اوسه،لکه د ژبپوهنې د نورو څانگو او څانگوړو په څېر، له مختلفو پړاوونو تېره شوې ده او د اوسني انکشاف ساحې یې تر مختلفو پړاوونو له تېرېدلو وروسته دومره لویې شوې دي. لیډي کوټ (۲۰۱۰) په خپله څېړنیزه لیکنه کې ذکر کړې، چې په (۱۹۵۰ مو) کلونو کې د ژبپوهنې یاده ساحه د دوهمې ژبې د زده کړې له مرحلې سره کارېده، چې په لړه اندازه تمرکز یې د لومړنۍ ژبې پر زده کړې او د ژبې پر نورو اړخونو وو. خو په (۱۹۷۰مو) کلونو کې بیا د ښوونې او روزنې موضوعات هم ورباندې گډ شول چې د کاروني ژبپوهنې د تمرکز ساحه یې نوره هم پراخه کړه. ددې تر څنگ، کارډر (۱۹۷۳) کاروني ژبپوهنه داسې گڼي چې گواکې تمرکز یې د ژبې پر تدریس دی، چې پر کلام (وینا) پوهاوی، ژباړه او د ژبې پالیسي (پلان) یې د تمرکز لویې نقطې جوړوي. خلاصه دا چې په کاروني ژبپوهنه کې د ژبې د کاروني (استعمال) متعلق زیاتره هغه ټولنیز، فردي، سایکالوجیکي... فکټورونه او د ژبې د کاروني اړیکې له یادو فکټورونو (عواملو) سره څېړل کېږي، چې د ژبې په عملي کارونه کې دخیل وي، او له څېړنې وروسته ژبه او د ژبې زده کړه په واقعي نړۍ کې پلي کوي او یا یې هم د پلي کېدا جوگه کوي.

پیني کوک (۲۰۱۰) بیا په خپله څېړنیزه لیکنه کې ذکر کړې، چې د کاروني ژبپوهنې تمرکز د ژبې له تدریس، ارزونې او د دوهمې ژبې له زده کړې نه یو څه نور هم ارت شوی، چې دده په اند، ژبې ته په ټولینز ژوند کې د یوه لوی ټولینز تصور په نظر باید وکتل شي. ډېویس (۱۹۹۹) د کاروني ژبپوهنې په اړوند په دې اند دی، چې د ژبپوهنې یاده ساحه د ژب-ساپوهنې (Psycholinguistics) او ژب-ټولنپوهنې (Sociolinguistics) له نظریو (Theories) سره په اړیکو هم تمرکز کوي، چې یادې دوې ساحې د ژبې له زده کړې او په مختلفو بڼو او حالاتو کې د ژبې له کاروني (استعمال) سره اړیکه لري. مانا دا چې کاروني ژبپوهنه او ساحه یې صرف دې ته نه محدودېږي چې د ژبې له مسئلو سره سر و کار ولري، بلکه په دې بهیر کې باید نور ساپوهیز او ټولنیز بعدونه هم په مشترکه توگه سره وڅېړل شي، چې د ژبې په واقعي نړۍ کې د واقع کېدو په وړاندې ټول خنډونه له منځه یوړل شي او ژبه په اسانه توگه سره د عملي کېدا (زده کړې) جوگه کړل شي.

د کاروني ژبپوهنې تر چتر لاندې نورې ډېرې څانگې/ څانگوړې هم راتلای شي چې لیډي کوټ (۲۰۱۰) یې د لاندې هغو یادونه کړېده، چې د نومورې په اند: تعلیمي ټیکنالوژي او د ژبې زده کړه، د ماشومانو او ځوانانو د ژبې زده کړه، ترجمه او ژباړه (شفاهي او لیکلې)، ژبه او سوداگري، ژبه او رسنۍ، ژبه د خاصو اهدافو لپاره (LSP)، د ژبې پلان (پالیسي)، ژب-ساپوهنه (Psycholinguistics)، نغوتژبه (Sign language)، د دوهمې ژبې زده کړه (Second Language Acquisition)... هغه څانگې دي چې د کاروني ژبپوهنې تر چتر لاندې راځي، چې ددې مانا دا ده چې یادې ساحې په یو نه یو ډول سره د ژبې له عملي برخې سره سر و کار لري، چې ژبه څنگه په عمل کې پلي کړل شي. ذکر شوی د کاروني ژبپوهنې د نړېوالې ټولنې (International Association of Applied Linguistics) له لورې هغه لیست دی چې د کاروني ژبپوهنې اړوند څانگې او څانگوړې یې په کې شاملې کړې دي او لیډي کوټ یې په خپله څېړنیزه لیکنه کې یادونه کړېده.

په اوسني عصر کې، انگلیسي ژبه د کاروني ژبپوهنې (Applied Linguistics) لپاره ډېر ستر پروگرامونه او کاري ساحه لري، او د یادې ژبې ژبپوهان د انگلیسي ژبې او ژبپوهنې متعلق په نویو څېړنو کې دې برخې ته ډېر پام کوي. په دې برخه کې د (TESL), (TESOL) او (TEFL) یادونه اړینه ده چې انگلیسي د دوهمې ،باندنۍ ژبې په توگه او انگلیسي ژبه د نورو ژبو ویونکو ته د تدریس کولو لارې چارې پکې ښوودل او څېړل کېږي. تر ټولو د پام وړ برخه یې د دوهمې ژبې زده کړه (Second Language Acquisition) ده چې له نویو نظریو سره سره یې، د تدریس او زده کړې نوي میتودونه او نوې کړنلارې هم وړاندې کړي دي تر څو زده کړیالان وکولای شي چې دوهمه او یا هم باندنۍ ژبه له نویو میتودونو سره سمه زده کړای شي. په دې جریان کې د ژبې د تدریس او زده کړې لپاره له (Grammar-Translation) میتود نه را په دې خوا، چې په ۱۸ او ۱۹ پېړیو کې د باندنیو ژبو (لکه: یوناني، او لاتیني ژبو) د ادبیاتو د زده کړې په موخه کارول کېده، بیا تر اوسني (Communicative Language Teaching) پورې مختلف میتودونه او کړنلارې وړاندې شوي دي چې تر څو وکولای شي د ژبې زده کړه په عملي ډگر کې اسانه کړي. د ژبې د تدریس په پخوانیو مېتودونو کې تر ډېره تمرکز پر گرامر او ویکابولارۍ باندې کېده چې په روستیو هغو کې بیا د ژبې پر ټولو مهارتونو تمرکز کېږي. خو د (Communicative Language Teaching) تمرکز خاص پر دې دی چې ژبه نه یواځې دا چې سمه زده کړلای شي، بلکه مهمه دا ده چې په ټولنیزو اړیکو کې د زده کړیالانو له خوا سمه وکارول شي تر څو وکولای شي ژبه په ټولنیزو اړیکو او ټولنیز ژوند کې سمه وکارول شي.

په پایله کې دا ویلی شو چې د کاروني ژبپوهنې (Applied Linguistics) اوسنی تمرکز ډېر د ژبې پر تدریس او زده کړه را چورلي، چې ددې هڅه کېږي چې د یوې ژبې زده کړیالان څنگه وکولای شي، چې (لومړۍ او یا هم دوهمه) ژبه نه یواځې څرنگه زده کړلای شي، بلکه څرنگه یو زده کړیال ددې وړتیا پیدا کړي چې ژبه په خپل واقعي ژوند او واقعي نړۍ کې د اړیکو لپاره سمه وکارولای شي، چې تر څو د افهام او تفهیم وړ وسیله وبلله شي. یاني کاروني ژبپوهنه د تیوري گانو (نظریو) منځته راوړونکې څانگه نه ده بلکه د جوړو شویو تیوري گانو کاروونکې څانگه ده. ددې تر څنگ، هغه نظریې چې د ژبې اړوند په الواکي (نظري) ژبپوهنه کې منځ ته راځي، د کاروني ژبپوهنې له خوا په عملي ډول سره پلي کېږي او هم په کاروني ژبپوهنه کې د ژبې د کاروني په وخت کې د را پیدا شویو یا را پیداکېدونکو ستونزو پلټنه کېږي چې کارونکي یې په اړیکو او زده کړه کې د کاروني پر وخت ورسره مخ کېږي.

### مأخذونه


1. Aronoff, M., Rees-Miller, J. (Eds.). (2003). *The handbook of linguistics*. UK: Blackwell Publishers Ltd.

2. Davies, A. (1999). *An introduction to applied linguistics: From practice to theory*. Edinburgh, Scotland: Edinburgh University Press.

3. Liddicoat, Anthony J. (2010). *'Applied linguistics in its disciplinary context'*.

4. Australian Review of Applied Linguistics 33 (2), 14.1–14.17. DOI: 10.2104/aral1014.

5. Pennycook, Alastair. (2010). *'Critical and alternative directions in applied.*

*6. Linguistics'*. Australian Review of Applied Linguistics 33 (2), 16.1–16.16. DOI: 10.2104/aral1016.

7. Kramsch, C. (2000). *Second language acquisition, applied linguistics, and the teaching of foreign languages*. The Modern Language Journal, 84(3), 311-326.


## گرامري جوړښت...

د ویېونو جوړښت او هغه بدلونونه چې ویېونه یې زغمي مطالعه او دا کار هغه وخت کوي چې ویېونه د غونډلو سره وتړل شي.

نحوه دا مطالعه کوي چې څنگه ویېونه او د دوی فورمونه کارول کېږي تر څو چې غونډلې (جملې) جوړې کړي او د دې Imstande توان لري چې انساني افکار او خیالات بیان کړي. دا ښکاره خبره ده چې ویې پانگه گوښی او په یواځې ځان دا توان نه لري چې یوه ژبه جوړه کړي، ځکه چې د گرامري جوړښت نه پرته به موږ یواځې ویېونه درلودی او د دې ظرفیت به یې نه درلود چې وروستۍ پرېکړه او وروستۍ پایلې څرگندې او بیان کړي. که چېرې موږ په غونډلو کې د ویېونو د ترکیب دا وسیله (گرامر) نه درلودلای، نو په دې به نه وای توانېدلي چې په پرېکړو او پایلو باندې فکر وکړو. په ریښتیني بڼه خو لا پخوا کې هم د گرامر څخه پرته هېڅ ویېپانگه نه وه، ځکه لومړني انسانان چې غږېدلي او خبرې یې کړې دي خیالات او افکار یې څرگند کړي دي نه بېل بېل ویېونه په دې اساس ویېپانگې کولای شول چې له هماغه پیله د گرامر سره یو ځای موجودیت ولري.

تر اوسه پورې د مورفولوژي او نحوې تر منځ اړیکې په ټوله کې په ریښتینې توگه نه دي تخمین شوې. د تېرې پېړۍ پوهې او علم تاریخي او تشریحي مورفولوژي ته ډېره پاملرنه وکړه، خو نحوې ته یې په داسې سترگه و نه کتل، زموږ پخوانیو گرامرونو د مورفولوژي اوږده او تفصیلي څرگندونه کړې ده په داسې حال کې چې نحوه یواځې په لږو اړخونو کې محدوده پاتې شوې ده او ډېرى وخت د مورفولوژي سره مخلوطه کېږي،لکه څنگه چې یو جرمني لیکوال وایي د علم لپاره نحوه هم په خپل وخت کې همداسې (مهمه) ده څنگه چې مورفولوژي ده. دا ریښتیا ده چې مورفولوژي د تشریحي او تاریخي پلوه د نحوې په نسبت په اسانۍ سره د څېړنې وړ ده.

نن ورځ موروفولوژي او نحوې دواړو ته په برابره توگه د پښویې (گرامر) د برخو په سترگه کتل کېږي او هره یوه یې په خپله بڼه کې مطالعه کېږي. په واقعیت کې خو د مورفولوژیکي ستونزو په پرتله نحوي ستونزې ډېرې پاملرنې ته اړتیا لري دا ځکه چې نحوي ستونزې رټې (سختې) دي او لږې څېړل شوې دي. په هېڅ صورت نه شي کېدای چې مورفولوژي او نحوه یوه له بلې څخه بېلې شي. دوی دواړه یوه له بلې سره تړلې دي، دا ځکه چې یوه پر بلې باندې اغېزه کوي او یوه واحده ټولگه جوړوي مورفولوژي په هغه کچه موجوده ده په کومه اندازه چې هغه نحوه کاروي او نحوه نه شي کولای چې د حالتونو د شمېر سره سره له مورفولوژي پرته بسنه او کفایت وکړي. پښویه نسبتاً ثابته ده اخیستل شوي عناصر په سختۍ سره ورننوزي او د پښویې د داخلي پرمختگ په اساس منځته راتلونکي بدلونونه ډېر ورو- ورو عملي کېږي، ځکه نو د هرې ژبې گرامري جوړښت Typisch نمونه‌ییز دی او د ژبې د اساسي ویېونو د پانگې سره په گډه او یو ځای د ژبې مخصوصیت جوړوي. لاندې به د مورفولوژي او نحوې خاصیتونه وپلټل شي:

موروفولوژي: د مورفولوژي علمي موضوع د ویېونو د ستراکچر او په غونډله کې د ویېونو د تغییراتو لپاره د اصولو او قاعدو له ترکیب څخه منځته راځي. مورفولوژي د ویېونو د یوه داسې فورم د بدلون لپاره د اصولو ټولگه دهچې ویېونو ته دا ممکنوي چې په غونډله کې مختلفې دندې سرته ورسوي مورفولوژي بېلابېل ډولونه لري: په واقعي توگه د تشریحي مورفولوژي دنده دا ده چې په یوه مشخص زماني پړاو کې د یوې ژبې موجود حالت په گوته او بیان کړي. د تاریخي مورفولوژي موخه دا ده تر څو دا جوته کړي چې په یوه ژبه کې د ویېونو فورمونو څه ډول پرمختگ کړی دی. د موروفولوژي دواړه څانگې د یوې او بلې همکارۍ او ملگرتیا ته اړتیا لري. هېڅ یوه څانگه نه شي کولای چې د بلې څانگې څخه پرته موجودیت ولري. دا په اسانۍ سره د پوهېدو وړ ده چې تاریخي مورفولوژي نه شي کولای چې د زیاتو حالتونو د مقایسې څخه پرته پرمختگ وکړي. دا حالتونه بایده دي چې په لومړي سر کې تشریح او واضح شي تر څو د یو بل سره پرتله کړای شي. په همدې ډول که چېرې یو څوک تاریخ نه پېژني او دې ته پاملرنه نه کوي چې څنگه یوه مشخص واقعیت ته رارسېدلي، که سړی په دې نه پوهېږي چې د تېر وخت د یوه حالت پاتې شوې برخې په څه کې وېني او د راتلونکي پرمختگ لپاره د پیل ټکی چېرته دی تشریحي مورفولوژي هم نه شي کولای چې پرمختگ وکړي.

مقایسوي مورفولوژي په مقایسوي گرامر پورې اړه لري او دا د نده لري چې د مورفولوژي د بیا جوړونې Rekonstruktion او نخښو په واسطه په نویو ثبت شویو ژبو کې د له لاسه وتلیو اساسي ژبو د تاریخي گرامر ملاتړ (ننگه) وکړي.

تشریحي مورفولوژي دا دنده هم لري چې د ویېونو د جوړېدو تحلیل او تجزیه سر ته ورسوي. په اندو اروپایي ژبو کې سړی معمولاً د یوه ویې د Wurzel ریښې او نورو افېکسونو ترمنځ توپیر کوي. ریښه په مورفولوژیکي لحاظ د تجزیې وړ برخه نه ده. په ټوله کې ریښه نه شي کولای چې په یواځې ځان وکارول شي، بلکې سړی د افېکسونو کاروني ته اړتیا لري تر څو په دې وسیله ویېونه جوړ کړي. اساساً او د قاعدې له مخې باید چې د یوې ریښې سره وروستاړې ونښلول شي تر څو چې یو Verbal گروپ جوړ کړي.

Affixe افېکسونه اوازونه یا د اوازونو گروپونه دي چې ریښې ته ورزیاتېږي تر څو چې ویېونه جوړ کړي، په یوه ویې کې د افیکس د ځای، موقعیت او رول له مخې چې لري یې سړی کولای شي چې افېکسونه په مختاړو، وروستاړو، منځتاړو او پاییزې باندې ووېشي. مختاړي داسې تاړي دي چې تر ریښې دمخه راوړل کېږي او معمولاً دا خدمت کوي چې نوي ویېونه جوړ کړي. په ډېرى حالتونو کې د مختاړو په واسطه جوړ شوي ویېونه په هماغه گرامري کټگورۍ پورې اړه لري لکه بنسټیز یا اساسي ویېونه چې دوی ترې رغېدلي یا جوړ شوي دي. مختاړي هغه عناصر دي چې د ویې ریښې ته ورننوزي او د دې لپاره خدمت کوي چې بېلابېل گروپونه چې د هماغې ریښې څخه جوړ شوي دي سره بېل او توپیر یې وکړي د ساري په ډول په لاتین ژبه کې ru- m- poحال زمانه »زه سفر کوم. «نیږدې تېره زمانه یې rup-i ده. منځتاړي دا Nachteil عیب او تاوان لري چې د ریښې یووالی تخریبوي او په دې وسیله ډېرى وخت ریښې د پېژندلو څخه وباسي.

Suffixe وروستاړي د ویې سره یو ځای کېږي. کله کله د مختاړو سره په گډه یو نوی ویی منځته راځي، د هغه دندې په اساس چې تاړي یې ترسره کوي په دې ډول سره جدا کېږي: یوه خوا هغه افېکسونه چې ویېونه جوړوي او بله خوا هغه افېکسونه دي چې د هماغه ویې د گردان فورمونه رامنځته کوي. په کمه انازه گرامري فورمونه د مختاړو په واسطه جوړېږي د ساری په ډول په Altirisch زړه اندو اروپایي ژبه کې نیږدې ماضي معمولاً د -ro د مختاړي په وسیله جوړه شوې ده، په روسي ژبه کې د Perfectiv اسپکټ ډېر فورمونه د مختاړو په ذریعه جوړېږي.

د وروستاړي په واسطه Modi او د کړنو (فعلونو) Tempora جوړېږي. سړی کولای شي چې په ځینو ژبو کې د وروستاړو په مرسته د ستاینوم د Komparation لوړېدو پوړی جوړې کړي. د ساري په ډول په لاتین ژبه کې Altus لوړ، alt-ior ډېر لوړ koparativ او alt- issimus یې لا ډېر لوړ یا Superlative دی، په روسي ژبه کې dlinnyi اوږد dlinnee (komparativ) او dlinneišii اوس ډېرى وخت (Superlativ) په بڼه کارول کېږي.

پاییزې یا Endungen هغه تاړي دي چې د هغوی په مرسته د اسمي ډلو څخه kasus جوړېږي. د پاییزې په واسطه د ویېونو د فورمونو څخه د کړ فورم منځته راځي د ساري په ډول د لاتین ویې -Felic څخه فاعلي حالت Felix د s- انډونگ په واسطه، د ملکیت یو گړی حالت Felicis د is- د انډونگ په وسیله، مستقیم مفرد مفعولي حالت Felicem د em- په ذریعه جوړېږي. تاړي او ریښې د ویې konstitutiv اساسي او جوړونکي عناصر دي چې مورفیمونه بلل کېږي.


(پاتې برخه په بله گڼه کې)

## د کلیله و دمنه پښتو ژباړې...

د دارالسلطنة په مطبعه کې چاپ شو)).
یاد څېړونکی وړاندې داسې لیکي:
((...په همدې وخت کې د ابوالمعالي »کلیله و دمنه «د درسي موخو لپاره د محمدعلي بن حسن تهراني له خوا تلخیص او تهذیب شوه او ځینې برخې یې لرې»حذف « کړې او نوم یې پرې »اخلاق اساسي« کېښود)).
ښاغلی استاد رفیع د (دبیر دانش) په سریزه کې، په خپل لیک کې داسې لیکي:
((...په »۱۳۴۷ هـ ق، ۱۹۲۸ ز «میرزا عبدالوهاب ایرانپور د کاشفي »انوار سهیلي «د »ګلشن آراء «په نامه په پارسي نظم کړه)).
ښاغلي استاد رفیع د (دبیر دانش) په سریزه کې د کلیلې و دمنې د څو نثري او نظمي ژباړو یادونه کړې ده چې په وروستیو کې لیکي:
((...جالبه ده چې په پارسي کې تر اوسه هم د کلیلې و دمنې د نظمولو او په ورځني نثر لیکلو ذوق او کار دوام لري، په همدې وروستیو کلونو کې دا کتاب د »پیمانهٔ پند یا کلیله و دمنهٔ منظوم «په نامه غلام حسین فخر طباطبایي په ایران کې لیکلې چې په »۱۳۵۹ ل، ۱۹۸۰ ز «پای ته رسېدلې او په خواږه نظم یې اړولې چې په انځوریز»مصور «ډول او ډېر ښکلي صحافت اوس- اوس چاپ شوی او خپور شوی دی)).
ډېره خوښي ده چې پښتو هم د پهلوي، سُریاني، عربي، پارسي، اردو او نورو.... ژبو په کتار کې ګډه شوه چې په بېلابېلو دورو کې پرې د (پنچاتنترا) ژباړه وشوه، په تېر وخت کې د افغان خاورې پوهانو او لیکوالو د (کلیلې و دمنې) اهمیت او ارزښت ښه انګېرلی و او د دوی پام و چې د هند دغه ارزښتناک کتاب په پښتو وژباړل شي چې پښتانه وکو لای شي چې ګرانه پښتو یې مورنۍ ژبه ده؛ ښه پرې پوه شي او له دغې ارزښتناکې او بډایې زېرمې څخه بشپړه ګټه واخلي؛ په همدې اساس په بېلابېلو دورو کې یې کلیله و دمنه د پښتو په نثر او نظم رااړولې ده چې په همدې ډول لاندې یې په تفصیل سره د کلیلې و دمنې ټولې پښتو ژباړې ګرانو لوستونکو او قدرمنو څېړونکو ته وړاندې کېږي:

### (۱) علم خانه دانش

د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې افضل خان خټک د اشرف خان هجري زوی او د خوشحال خان خټک لمسی ړومبی کس دی چې کلیله و دمنه یې د (عیار دانش) له مخې په پښتو نثر وژباړله، افضل خان خټک د (۱۱۷۵ هـ، ۱۷۶۱ م) په شاوخوا کې زیږېدلی، نوموړی نه یواځې د پښتو یو غوره لیکوال و؛ بلکې د یوه وړ او اوچت تاریخپوه په حیث اوځارتوب لري چې د (تاریخ مرصع) په نامه تاریخ د همده دی.
څنګه چې د دري او عربي ژبو له لارې د کلیله و دمنه اوځاروالی د افغانانو هېواد ته رسېدلی و؛ نو افضل خان خټک نه یواځې د کلیلې و دمنې په ژباړې بسنه وکړه؛ بلکې دغه ګټور او ارزښتمن کتاب یې د پښتنو لپاره اړین وباله چې په همدې اساس یاد نړیوال کتاب یې د ړومبي ځل لپاره په پښتو نثر په ښکلي انداز وژباړه او د (عیار دانش) د ژباړې نوم یې (علم خانه دانش) کېښود، باید وویل شي چې د افضل خان ژباړه ډېرې ادبي ګڼې لري، نوموړي د عیار دانش نثر په پښتو نثر او شعرونه یې د نظم په چوکاټ کې راوړي او د اروابناد علامه عبدالحي حبیبي په وینا: ((...افضل خان په یاد کتاب کې د نثر په منځ کې ځای پر ځای د خوشحال خان یا د پلار شعرونه راوړي او د کتاب منځپانګه ډېره ښکلې کوي)).
ربښتیانی چې د (علم خانه دانش) نثر ډېر خوږ او ښکلی دی او ژبه یې ډېره ساده، روانه او له ابهامه سپېځلې ده، څنګه چې نوموړي له عربي او دري ژبو سره ډېره بلدتیا درلوده؛ نو همدا لامل دی چې دهٔ په خپلې ژباړه کې له عربي او پارسي ګڼو ډېره ګټه اخیستې، لنډه دا چې د افضل خان خټک نثر د همغه وخت په ښو او غوره نثرونو کې شمېرل کېږي.
هو!! د (علم خانه دانش) خطي نسخې په نړیوالو کتابتونونو کې موندل کېږي، د ښاغلي استاد حبیب الله رفیع په وینا: ((د یاد کتاب قلمي نسخې او چاپي غورچاڼونه شته؛ خو په بشپړ ډول لا خپور شوی نه دی)).
او د یاد پوه په وینا: ((د علم خانه دانش یوه بشپړه قلمي نسخه د انګلستان په »انډیا آفس India office Library« کې په «پښتو، ب، ۴» نومره خوندي ده چې د »۱۱۸۳ هـ ق، د محرم الحرام په ۱۴ مه، ۱۷۶۸ ز «سید محمدعلي خطاطي کړې او »۳۳۶ «پاڼې لري)).
ښاغلی استاد رفیع د (دبیر دانش) په سریزه کې د (علم خانه دانش) په اړه دا ډول مطالب ثبت کړي دي: ((یوه بله بشپړه نسخه یې د پېښور پوهنتون، د پښتو اکاډمۍ په کتابتون کې په »۲۰ «نومره خوندي ده، په »۱۲۰۶ هـ ق، ۱۷۹۱ ز «د سردار شهبازخان خټک زامنو صدرخان او حسن خان لیکلې چې »۲۱۸ «پاڼې لري)).
په همدې اساس د »علم خانه دانش «د خطي نسخې په اړه لکه څنګه چې استاد رفیع لیکلي چې په پښتو اکاډمۍ کې خوندي ده؛ نو زه د دغې نسخې د نږدې کتلو لپاره د یادې اکاډمۍ له کتابوال(مسؤل) ښاغلي سرفرازخان مروت سره د ۲۰۰۹ ز، د مارچ په ۱۷ مه ولیدل، دغه نسخه مې وکتله، ربښتیانی یاده نسخه بشپړه او ښکلی لیک(خط) یې درلود، په همدې ترتیب د ګران او ښاغلي استاد رفیع په وینا: ((همدا راز د یاد کتاب یوه نیمګړې نسخه د انګلستان د »برټش موزیم British Museum« په ختیځه څانګه کې چې «۹۰» پاڼې لري؛ په »۴۵۰۴ «نومره خوندي ده)).
یاد څېړونکی د دبیر دانش په سریزه کې د »علم خانه دانش «په اړه موږ ته داسې معلومات راکړي دي: ((درېیمه بشپړه نسخه یې د افغانستان په ملي آرشیف کې په »۱۴۴/۴ «نومره خوندي ده، د کتابت کال یې »۱۲۲۹ هـ ق، ۱۸۱۳ ز «دی او »۲۲۴ «پاڼې لري)).
ښاغلی رفیع د (علم خانه دانش) نثر دا ډول پرتله کوي: ((د »علم خانه دانش «متن د تاریخي متنپوهنې له مخې د خپل وخت معیاري، پوخ او نماینده نثر دی او د پښتو ژبې د هغه وخت په ارزښتناکو متنونو کې شمېرل کېږي)).
افضل خان خټک (عیار دانش) له پارسي ژبې په (۱۱۲۸ هـ ق، ۱۷۱۵ ز) کې په پښتو نثر ژباړلی، نوموړي د خپلې ژباړې تاریخي ماده په (علم خانه دانش) کې د پښتو اشعارو له لارې روښانه کړې ده چې دلته یې د استاد رفیع د استناد په اساس ستاسې خدمت ته وړاندې کېږي:

نصیحت په غوږو کله ځای نیولی د کڼو دی
شنوا به پند ترې واخلي، دا کتاب د زمانو دی
شکر دا چې دا نامه مې تر مرګ وړاندې په انجام شوه
دانایان په دا پوهېږي، جهان سرایه د لمبو دی
که تاریخ یې له ما غواړې! راشه واوره!
«که یې وګورې، یو ګنج د پښتنو» دی
(۲۳+ ۱۰+ ۲۴۲+ ۱۶+ ۷۳+ ۴+ ۷۵۸= ۱۱۲۸ هـ ق)

او دغه د (علم خانه دانش) د سریزې له برخې نه د نثر بېلګه کتلای شئ:
((دا کتاب چې په نظر زما راغی، مدت شوی و چې اراده مې د نوي کتاب د وضع په پښتو ژبه په خاطر ګرځېده چې علم اخلاق پکې بیان کړم، پنځویشت کاله حکمراني چې په دا خپل قوم باندې وشوه، په دا سن چې عمر عزیز په درې پنځوس راغی، په دا حکمراني کې نېک و بد تجربې د روزګار لکه عادت د روزګار غدار دی، له خپلو پردیو ولید شوی؛ په خاطر راورسېدل...له دې تجارت وروستي هم مګر بهرمند شي یو کتاب د حکمت یادګار پرېږدم؛ لکه خان مرحوم ملک خوشحال خان چې نیکه زما دی، دستارنامه ځنې پاتې شوې ده، همدا راز زوړ کتاب چې دستورالعمل د خاص و عام دی او په ډېرو ژبو ترجمه شوی و؛ مګر په پښتو ژبه ترجمه مې کړ، مشکلات یې په سهولت قرار ونیسي او فایده یې پښتنو ته عامه ورسي، شروع مې په ترجمه وکړه، السعي منی والاتمام علی الله؛ یعنې کوشش له موږه ده، تمامښت په خدای دی...)).

**اغاز متن**

دا اغاز دی په نامه د هغه خدای
چې بې ځایه دی، بې ده نشته بل ځای
په »تخلقوا «و خلق ته رهنمون دی
«فاستقم کما امرت» رهنمای

څلور طبقې بادشاهان د عجم وو چې په شاهنامه کې بیان شوي دي.

**مثنوي**

ګروهٔ شهان چهار بود در جهان
یکی »پیشدادان «و دیګر »کیان«
ګروهٔ سیم بود »اشکانیان«
چهارم ګروه اند »ساسانیان«

نوشېروان عادل په څلورم طبقه کې دی چې »ساسانیان« یې بولي، ډېر دانا دوست بادشاه و؛ لکه په کتابونو کې په هر ځای د ده صفت دی.

نوشېروان چې مخ په عدل، په انصاف وه
که یې ګورې تر قیامته یې اوصاف وه

اروابناد علامه حبیبي په پښتانه شعراء، لومړی ټوک، ۲۳۰ مخ کې د (علم خانه دانش) وروستۍ کرښې دا رنګ رااخیستي دي: ((...اصل کتاب د کلیله و دمنه تمام شه، خاتمه یې په نظر ثاني په دیارلسم د محرم، سن هجري، یک هزار و یک صدو بیست و هشت، عجب کتاب پښتنو ته یادګار پاتې شه؛ البته چې خالي به له فایدې نه وي... د دې کتاب نوم مې «علم خانه دانش « کښېښود)).

**( پاتې برخه راتلونکې ګڼه کې)**

## د سپین بغاوت ملي...

ملي یا اولسي دریځ یې د ټولو خلکو او ټولنې د درد او رنځ غږ او مزاحمت و، نو ځکه یې په غږ کې خلکو هم خپل غږ محسوساوه او دا د ده محبوبه مشغله او لاره وه، ده پر همدې ملي لاره او محبوبې زړه بایللی و. د کومې محدودې فکري ډلې او سیاست ملګری نه و؛ بلکې د خلکو او ملت ملګری و او د ملت په خوا او طرف ولاړ و.
د شعر، ادب او سیاست په اړیکه او تړاو بحث به ښایي کلیشه وي؛ خو د تراب په څېر د ملت په منځ کې د ګڼو سیاسي او فکري لیډلوریو او خواو ته په محبوب شاعر ځکه مهم شي، چې هر څوک یې د خپل درد او غږ انعکاس بولي، دا أصلاً د یوه ملي او اولسي شاعر د فن او فکر ظرف وي، چې په متن کې یې هر څوک یا هره خوا خپل مخ، مانا او عمل ویني، دا د شاعر متنازع کېدل هم نه دي؛ بلکې د ګڼو یا ټولو خلکو او خوا ته د منښتې او ارزښت په تول تلنه ده، زموږ په څېر استثنايي ټولنو کې چې خلک، سیاسي او فکري لوري مو باید قاطع او غوڅ وي، زما او د بل پر وړاندې مو د طرف کرښه هم باید معلومه وي، په داسې ټولنو کې د درېیمې لار او منځروی خبره خورا سخته او ستونزمنه تمامېدای شي؛ مګر تراب په همداسې یوه حال او نه «مخامخ، رسا او ټولو طرفونو ته» حالت کې یوازې خبره وکړه، بلکې د خبرې د کولو هنر، خلاقیت او چلن یې هم د متناسب او د درېیم ګړې لارې و، که یې د کوم طرف د ستاینې او ښیګړې خبره هم کړې وي، د بل هغه یې هم ورته یاده کړې او که یې نقد هم کاوه د طرفونو بیلانس یا توازون به په کې و. ځکه خو دای د یو متوازن شخصیت او شاعر په حیث هم د منلو او قدرولو وړ و او دی.
د خارجي و داخلي استعمارونو پر وړاندې غږ، مزاحمت او مقاومت د خلکو او اولسونو خپل ملي او دفاعي حق او حقوقي مکلفیت دی، هغسې او هومره مزاحمت او مکلفیت څومره چې د استعمار او استحصال د منګولې زر او زور وي. په شعر یا منظومو کې د مزاحمت روایت ډېر زوړ او قدیم دی؛ مګر په معاصره پښتو شاعرۍ کې د اجمل خټک د غیرت چیغه هغه شهکار مزاحمت و، چې مستبد او دیکتاتور نظامونه او حکومتونه ورسره ولړزېدل، بندیزونه او قدغن پرې ولګیده ان چې څو نسلونه یې له ځانه سره واړول. د تراب شعر او کتابونه د همداسې یوه غیرتي چیغې د طرز او روایت برخه دي؛ البته د زماني او فکر له پلوه به حتمي توپیر ولري، ځکه شرایط او چلندونه یې سره بېل دي؛ خو اثر او روایت کې سره یو دي.
په ۲۰۰۱م کال چې افغانستان د خارجي قواو د نظامي او سیاسي تسلط تر جبر لاندې شو او هر څه د یوه ملي او خپل معاصر افغانستان پر ځای د نورو یا پردیو رحم و کرم ته پاتې ول، همغه وخت هلته او دلته د شعر او منظومو کلامونو له لارې په مشاعرو کې د همدې استعماري قوتونو پر وړاندې توده خاموشي ماته شوه، چې په سر کې یې له ننګرهاره د نارنج ګل په میله او مشاعره کې د عزت الله ځواب او سمیع ترون ځینې راسا او رغنده غږونه او مزاحمتونه په خورا شور او زوږ پورته شول او بیا پسې تراب هم د پکتیا له ښنتر مشاعرې راڅرګند شو او په جرات یې ویل:
داسې څوک شته چې له راغلو نه پوښتنه وکړي؟
دا پوښتنه د یوې پوښتنې په بڼه تراب مرحوم نه یوازې د هغه وخت د حاکم استعمار پر موجودګۍ د هغوی او خلکو مخ ته منظومه کړه؛ بلکې د یوه خورا جراتمندانه غږ او مزاحمت په بڼه یې د تاریخ حافظې ته د یوه استعمار ضد نریټیف په بڼه وسپارله او دا دی نن ثابتېږي، چې دا له هغه راغلیو او اوس تللیو نه هم هغه وخت او هم اوس څومره مهمه او اساسي پوښتنه وه. دا هغه پوښتنه وه چې دا دی نن یې هم د پوښتنې پر حقانیت او سنجیدګۍ بنده افرین ویلی شي، هغوی چې راغلي و له شل کلن اړو ګړو مخکې وروسته ټول هغه سیاسي، نظامي او فکري حسابونه او کتابونه څوک ترې پوښتلی شي؟ یا چا ترې وپوښتل؟ بشر حقوق، فردي او اجتماعي ازادۍ، بشري کرامت، جمهوري ارزښتونه، ټولنیز عدالت، انساني مساوت، نظامي او فکري تحولات دا ټول مقدس اصطلاحات زموږ لپاره هغه دوه مخي او په ګوړه کې زهر نه و؟ چې پس له شل کلنو نتایجو یې دا هر څه سرچپه او برعکس ثابت کړل. دا همغه د تراب د مصرې پوښتنه وه، چې نن هم د مطرح کېدو وړ ده.
بېشکه چې دا پوښتنه یوه باخبره او باشعوره پوښتنه وه، له هغوی دا پوښتنه واقعاً د یوه برجسته او پر استعماري فریب د باخبره ذهن او فکر کېدای شوه. زه، زما خلک، ولس، وطن او وطنوال چې د یوه ناتمامه جنګ و جهنم د اور خوراک وو او یو؟ دا کومه بشري او انساني همدردي او خواخوږي وه، چې جنګ، سیالي او ګټې یې ستا او د ټولو طرفونو او نړیوالو سیالیو میدان او تاوان دې همدا زه، زما خاوره او خلک وو؟ بده یې لا دا چې اوس هم د نړۍ د ټولو سیاسي او نظامي دستګاوو له شر و فساده خلاص او بچ نه یو پاتې. تراب د همداسې یوه فکر او سیاست سړی، ناظم او شاعر و، چې د نړۍ د همدې ګټو او تاوانونو په منځ کې د خپلو او پردیو په ګټه او تاوان پوهېده او د خپلې ګټې د پوښتنې درک او شعور ورسره و.
تراب چې خواوشا څو پنځوس کلن و، په یو حساب د خپل وطن د جنګ و جګړو همزولی و، مګر دای د جنګ هومره متشدده یا د جنګ د توجیه او ګرمولو پلوی او ناظم نه و، بلکې نیوکه او انتقاد یې هم د جنګ د یوه مخالف او مصلح غوندې و، همدا وو، چې په اولس کې یې د محبوبیت کچه ځکه لوړه وه، چې خلک او اولس هم د همداسې نیابتي او پردیو جګړو ښکار وو، چې ګټې یې د نورو او تاوان یې زموږ و، د جنګ د تېنې او تحمیل همدا لیدلوری و، چې دای او اولس دواړه یې په مخالفت سره تړلي او مبین کړي وو.
زموږ په ادبي مباحثو کې د اولسي شاعر یا شاعرۍ په اړه چندان د درنښت تصور نشته، حال دا چې دا یو ملي مسوولیت او مکلفیت دی؛ خو له بده مرغه دا همغه د طرفونو او خواوو د شاعرانو او ناظمانو میراث دی، چې د شعر یا منظوم کلام په پیرایه کې یې د ټول ملت یا اولس پر ځای د یوه مخصوص فکر او ایډیالوژۍ ترویج او تبلیغ کاوه، دا باید تلقین کړو، چې شعر زموږ د بشر د ټولنیزو مسوولیتو له انعکاس نېولې تر ملي، کلتوري او اولسي کړو وړو پورې د خلکو او ذوقونو هنداره ده، تراب د اولسي یا ملي شاعر په توګه د همداسې یوه اولسي او ملي شاعر په لقب یادول پکار دي او زه فکر کوم دا لوی لقب دی.
تراب په داسې یوه وخت کې دا نظمونه وویل چې له هغه زماني استثنا وراخوا د اسلوب یا سبک کریډیټ یا هم د ده په برخه کېږي؛ مثلاً تاسې وګورئ په تېرو شلو کلونو د ده رنګه او یا د ده په ډول څومره نور شاعران او ناظمان پیدا شول، چې د ده ملي او اولسي سبک او طرز یې خپل کړ. د یوه شاعر لپاره یوازې د شعر او نظم د سبکي ځانګړنو خپلول یوه خبره ده او د هغه د شعر د سبک یا لارې تقلید بله هغه ده، چې دا اصلاً دواړه مهمې دي؛ خو ورستی دغه یې دوه ګونی امتیاز دی یعنې پر امتیاز بل امتیاز دی.
په تراب د نورو خبرو کولو ځای هم شته؛ خو کاش د داسې شاعرانو او ناظمانو پر هغه منځپانګه او ملي دریځ غور و فکر وکړای شي، چې اساس یې د خلکو او اولسونو ملي یوالی او اجتماعي درد راټولول وو. **پای**


داسې څوک شته چې له راغلو نه پوښتنه وکړي؟
دا پوښتنه د یوې پوښتنې په بڼه تراب مرحوم نه یوازې د هغه وخت د حاکم استعمار پر موجودګۍ د هغوی او خلکو مخ ته منظومه کړه؛ بلکې د یوه خورا جراتمندانه غږ او مزاحمت په بڼه یې د تاریخ حافظې ته د یوه استعمار ضد نریټیف په بڼه وسپارله او دا دی نن ثابتېږي، چې دا له هغه راغلیو او اوس تللیو نه هم هغه وخت او هم اوس څومره مهمه او اساسي پوښتنه وه. دا هغه پوښتنه وه چې دا دی نن یې هم د پوښتنې پر حقانیت او سنجیدګۍ بنده افرین ویلی شي.



تراب د اولسي یا ملي شاعر په توګه د همداسې یوه اولسي او ملي شاعر په لقب یادول پکار دي او زه فکر کوم دا لوی لقب دی.

# زېری

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي، څېړنیزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

**مسئول مدیر:** څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورین

**مهتمم:** څېړندوی پښتون پښتون

**کتنپلاوی:** اکاډمیسین څېړنپوه دوکتور سید محي الدین هاشمي، څېړنوال رحیم الله حریفال، څېړندوی احسان الحق کبیر، څېړندوی مطیع الله ساحل

**د افغانستان د علومو اکاډمي**
**د ژبو او ادبیاتو مرکز څېړنیز ارګان**

www.asa.gov.af

**برېښنالیک:** zerai1316@asa.gov.af / zerai1316@gmail.com

**د اړیکي شمېرې:** ۰۷۸۰۸۳۱۹٦۰ (۰) (۹۳+)
۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹ (۰) (۹۳+)

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د یوې ګڼې بیه:** پنځه افغانۍ

● په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی په لیکوالو پورې اړه لري.

**د ۱۴۰۴ ل.کال، د زمري میاشتې ۹- ۱۰مه ګڼه | پرله پسې ۴۴۹- ۴۵۰ مه ګڼه**


## د کیسه لیکوال او کرکټر لیدلوری


پوهندوی ګل رحمن رحماني


زموږ داستاني ادبیات په ځانګړي ډول لنډه کیسه که د غوړېدو په حال کې ده، هر وخت په هېواد د ننه او بهر د کیسه لیکوالو لنډې کیسې په کتابي او انلاین ډول خپرېږي، خو له کیفي اړخه لا هم تخنیکي ستونزې پر ځای پاتې دي او ډېر هغه مشهور کیسه لیکوال هم د داستاني عناصرو په بشپړ تطبیق کې پاتې راغلي چې د پښتو داستاني ادب په تیوري کې ځانونه مخکښ بولي.

په دې نیمګړتیا کې شاید لویه ستونزه هم د نیمګړو او نا غځول شوو پلاټونو (طرحو) وي چې ډېر ځله له لیکوالو سر وړي او د خپلې مخکنۍ لار نقشې پر ځای په نورو تصادفي او نا اشنا لارو پل کېږدي چې دا طبعا لوستونکي ته یو تکلیف دی او د داستاني کرکټرونو په پر طبیعت او غوړېدنه هم اغېز لري، خو هغه موضوع چې په دې لیکنه کې د بحث لپاره ټاکل شوې، په داستان کې لیدلوری (Point of view) دی، هره کیسه په دوو ډګرو کې ننداري ته وړاندې کېږي. یو د لیکوال لیدلوری دی او بل هم د کیسې د کرکټر، د کرکټر لیدلوری د لیکوال نه دی او د لیکوال د کرکټر نه دی، هر یو د خپلې دنیا استازولي کوي، که چېرته لیکوال خپل لیدلوری پر کرکټر وتپي، داستان یې مصنوعي او بې خونده کېږي.

کره کتونکی استاد اسدالله غضنفر په دې اړه وایي: ، د کیسې د لیدلوري عنصر ته ډېر پام په کار دی. لیدلوري نه مطلب دادی، خصوصاً په لنډه کیسه کې چې یوه واحده زاویه ولري، واحد لیدلوری ولري، له یوه لیدلوري کیسې ته وکتل شي، منظور مې دا دی چې که د احمد په زړه کې تېره شی چې کاشکې توپ واخلم او دی دې پلار ته ورشي، نو بیا بهتره داده چې د کیسې تر اخره د احمد له سترګو کیسې ته وګورو. یاني هغه څه چې احمد یې نهویني یا احمد یې نه اوري، هغه باید په کیسه کې رانه شي. فرضاً داسې نه شو ویلی چې احمد ته په زړه کې ور تېره شوه چې راځه پلار ته به ووایم چې توپ راته واخلي، بیا وروسته وایو چې پلار ته یې په زړه کې ورتېره شوه. نه! دا صحیح نه ده، دا بیا هغه لیدلوری بیا ډېر پراخ شي، دا بیا هغه وحدت تاثر نه جوړېږي، کیسه نه را ټولېږي، بهتره داده چې د یوه کس له نظره کیسې ته وکتل شي چې دا د کیسې په راټولېدو کې ډېر مهم عنصر دی.

لیدلوری په دې مهم دی چې د کیسې لوستونکی له څو لارو را ګرځولي کېږي او له اصلي مسیر سره ملتیا کوي، دا ملتیا د کیسې د پېښې په لنډون باندې، څنګه چې د لنډې کیسې له نوم سره اړخ لري، ټینګار کوي، ځکه چې د لنډې کیسې په لنډون کې خپله لیدلوری هم اغېز لري، د پېښې د تعدد په څېر د لیدلورو ډېر والی هم د لنډې کیسې اصالت ته زیان رسوي. مثلا زموږ د کیسې اتل یو داسې ځوان دی چې د کور ټول بوج ور په غاړه دی، خپله په ښار کې یوه لاسي کراچۍ لري، توکي پلوري، په همدې زحمت هم خپلې کورنۍ ته یوه مړۍ ډوډۍ پیدا کوي او هم د خپل ستړي او نا قراره ژوند یوه برخه ښوونځي کې زده کړو، دلته لیدلوری د هغه همت دی، د هغه موخه ده چې غواړي د زده کړو او زیار له لارې خپل دا برخلیک بدل کړي، دی ممکن ګڼې نورې ځانګړنې هم ولري، ځینې یې بیخي ددې خلاف وي، خو هغه یې د کیسې د لیدلوري برخه نه ده، لیکوال باید له همدې لیدلوري کرکټر مخته یوسي، انکشاف ورکړي او له نورو زاویو څخه ورته ونه ګوري. که اوس چېرته لیکوال د هغه له نورو ځانګړنو کیسه مخته یوسي، لوستونکی ددغه ځوان د شخصیت او هیلو تر منځ ورکېږي. اوس به له پورتنیو ځانګړنو وروسته خبره یو څه را غونډه کړو.

**د لیدلورو توافق:** د کیسې راوي یا لیکوال خپله د یوه انسان په توګه د نظر او اند خاوند دی، د ژوند د بېلابېلو پېښو، اړخونو او شیزونو په اړه خپل لیدلوری لري، خو دا لیدلوری باید پر کرکټر ونه تپي، ضرور نه ده چې کرکټر دې هم د هغه په څېر لید ولري، د دواړو تر منځ باید توافق موجود وي، کرکټر ته د هغه د وجود او شخصتي ځانګړنو له هغه زاویې ورشي او مخته لاړ شي چې ده ته یې د کیسه لیکنې انګیزه ورکړې ده، ځینې شیان چې غواړي واضح یې کړي، د فرعي یا یوه بل مرستیال کرکټر په وجود کې یې وړاندې کولی شي، لږ تر لږه د لوستونکي لیدلوری هم په پام کې ونیسي چې هغه به څه فکر کوي، کوم اړخ ورته جذاب او نوی دی، ددې ټولو تر منځ توافق د لیدلوري یا لید زاویې د اغېز او ثبات سبب ګرځي او کیسه په ښه ډول انکشاف مومي.

**مسلکي لیدلوری:** په کیسه کې د مسلکي موضوعاتو په تړاو لیدلوری باید پر معلوماتو ولاړ وي، دا چې یو جراح ډاکټر د خپل بریالي عملیات له انجامه څومره خوند اخلي او د خوښۍ احساس کوي، دا تر هغو نه شي بیانېدی چې په روغتون او معاینه خانه کې له هغه سره څه وخت ناسته پاسته ونه شي، له بل اړخه کېدی شي یو لیکوال په کیسه کې د یوه لیکوال د ژوند او اړوندې ځانګړې سوژې په اړه کیسه ولیکي، دلته طبیعي ده چې له هغه سره د تجربو یوه ټولګه شته، په دې صورت کې تجربه په لیدلوري کې شامله ده او کیسه په ښه ډول مخته وړلی شي. همداسې که یو طبي ډاکټر، چې کیسه لیکي، د یوې طبي موضوع، ډاکټر او بلې مسلکي موضوع په تړاو لیدلوری ښه غځولی او ساتلی شي.

**د لیدلوري جغرافیه:** کله چې وایو احمد یو داسې کلیوال دهقان و چې له سهاره تر ماښامه به په کروندو کې په کرکیله لګیا و، دلته مکاني لیدلوری کلی، کروندې او سترپاوي دي، همداسې که ووایو چې احمد په نوي ښار یا ګلبهار سنټر کې پلورنځی درلود، په دې حالت کې د لیدلوري لپاره جغرافیوي چوکاټ مشخص دی او باید دا مکان د هغه په شخصیت او کړو وړو هم اغېزناک وي چې د کیسه لیکوال پاملرنه ورته اړینه ده.

**د لیدلوري فرهنګي اړخ:** زموږ اکثره خویونه او عادوتونه زموږ د ټولنې د کلتوري سکښت زېږنده دي، په فرهنګي لحاظ باید کرکټر یو نا اشنا موجود نه وي چې دې ټولو ته د شک په سترګه وګوري، دا یې په خبرو، کړو وړو او عاداتو کې محسوس وي، حساسیتونو او کله بیا د تابو ماتونې د عواقبو یا پایلو په اړه هم د لیدلوري زاویه پرانېستې پرېږدي او بې پروایي وسره ونه کړي.

**د لیدلوري تلوسه:** مشخص لیدلوری په حقیقت کې د تلوسې ایجاد سبب هم ګرځي او لوستونکی متمرکز ساتي، که بیا هم د احمد مثال یاد کړو چې په خپل همت کور چلوي او زده کړه کوي، غواړي لوی سړی شي، دلته د لیدلوري حدود لوستونکي په همدې چوکاټ کې تلوسه ورکوي چې احمد خامخا یو مهال لوی سړی کېږي یا تر لږه ددې زیار پایله به یې څه ډول وي او څنګه به یې تر لاسه کوي.

**د لیدلوري تضاد:** که چېرته کیسه لیکوال په کیسه کې د اصلي کرکټر مسیر ته پام ونه کړي، نور موضوعات او خبرې په کې را ګډې کړي، دلته لیدلوری هم ورسره بدلېږي یا لومړی او اصلي لیدلوری پیکه کوي، د لیدلوري دا تضاد بیا هم د لوستونکي د سرښت او تلوسې د مړاوي کېدو سبب ګرځي. خو په کشمکش کې بیا د اصلي او فرعي کرکټر یا د اصلي کرکټر د لیدلوري تضاد اړین دی، ځکه د مکالمو او کشمکش د پیاوړتیا سبب ګرځي.

له لیدلوري سره د هنر او تقاضا بحث هم تړلی دی،

> استاد غضنفر وایي چې نورو شیانو کې په نورو تولیداتو کې عرضه تقاضا ته ګوري، یاني که د بازار موټر په کار وي، نو د فابریکو خاوند موټر تولیدوي، که بازار کې بایسکل ته اړتیا وي؛ نو د فابریکو خاوند بایسکل جوړوي، په فرهنګ کې خبره برعکس ده.

د لیکوال په وینا په فکري او ذوقي مسایلو کې دا باید عرضه کونکي وي چې ښه شی تولید کړي چې تقاضا جوړه کړي، یاني هلته په نورو مادي شیانو کې دا تقاضا ده چې عرضې ته لوری ورکوي، خو په فرهنګ کې دا عرضه ده چې تقاضا ایجادوي، یاني که ښې کیسې ونه لرو، که ښه ادبیات نه لرو، که داسې اثار و نه لرو چې په فکري لحاظ یا په ذوقي لحاظ عالي یا ښه وي؛ نو خلک به یې نه لولي، راځئ پر دې فکر وکړو، خلک دغسې نه تشویقېږي، خلک داسې تشویقېږي چې ښه اثار ولري او دوی د ښو اثارو په لیدو سره دا ضرورت احساس کړي، چې دا د لوستو او د اخیستو وړ دي.

په پایله کې ویلی شــــو چې د کرکټر پنځونې (کرکټرایزېشن) په څېر د هغوی د لیدلوري تعقیب هم اساسي کار دی، ځکه کیسه طبیعي او ژوندۍ ساتي، له اضافي خبرو مو ژغوري او پر لوستونکي مو کیسه لولي/ اوري. که کیسه لیکوال د لیدلوري په موندنه او ټاکنه کې خواري وکړي، په حقیقت کې په طبیعي ډول ژوند خوندي کوي او په کیسه کې د خوند او ښکلا تر څنګ باور هم رامنځته کوي. **پای**

## ورسک


څېړندوی محب الله همتیار


ورسک په څو اریایي ژبو کې تر اوسه لا ژوندی ویی دی، اوس مهال کومه داسې معنا نه لري چې په لیکنۍ بڼه یې دلته وړاندې کړو ولې تر اوسه پورې په هېواد، ایران او روسیه کې په دې نوم ځایونه موجود دي. دهخدا فارسي قاموس لیکلي دي چې اورسک په پخواني شوروي اتحاد کې یو ښار دی. له دې نوم څخه ښکاري چې وروسته به د روسي ژبې له اثره یا به له لومړي سره په دې ویی کې الف توری وه خو د وخت په تېرېدو سره به زموږ په ژبو کې له منځه تللی وي او اوس به ورسک ویل کېږي. په ایران او افغانستان کې د دې ویي وینګ په ټولو کې یو شان دی چې ورسک دی. زموږ په هېواد او پښتونخوا کې زیات ځایونه په دې نوم نومول شوي دي چې عبارت دي(په وزیرستان کې أعظم ورسک، په بونیر کې تور ورسک، په پکتیکا کې ورسک کلي، د لوګر په خروار کې ورسک کلی).

تر اوسه پورې چې ما د ورسک کلمې په اړه له ځینو کسانو څخه پوښتنه کړې، د هغوی په منځ کې ژوندۍ کلمه ده چې په هغه وخت کې کارول کېږي کله چې یو څوک له یو دیوال او یا د غره له څوکې څخه یو دم پنا کېږي. د دې کلمې د وینګ شکل او مانا یې د ژبو او ادبیاتو مرکز غړی احمدالله وصال چې د خوست نیازی دی په خپله ژبه کې لري. د ښاغلي وصال په اند دا ویی په یوه پښتو شعر کې راغلی دی چې د ترانې په شکل زمزمه شوی دی.

> ولې له ورسک د دروازې راپسې ګورې
> اې زما جنته اوښکې مه بهوه نورې

له دې پورته خبرو سره دې پایلې ته رسېږو چې د ورسک کلمه لا تر اوسه په پښتو ژبه کې د قامونو، ځایونو او د یوه مفهوم د افادې لپاره کارول کېږي.(احمدالله وصال) کله چې د ورسک په ویی پسې د لټون په موخه په برېښنا پاڼو کې سر شوم نو زیاته برخه مواد پکې په فارسي ژبه لیدل کېدل خو هلته یې هم په اړه بیلابیل نظرونه موجود و. د سفر مارکیټ په نوم په یو برېښناپاڼه کې لیکل شوي ( ورسک پخوانی نوم عباس اباد وه، چې وروسته د لومړي پهلوي په وخت کې په همدې سیمه کې یو پل ورغیده چې د دې پله ډېزاین یو اتریشي پیغلې کړی وه نو ځکه دا سیمه د ورسک په نوم نومول شوه او له دې سره زیاته کړې ده چې دا سیمه یو ښیرازه سیمه ده چې دلته هر ډول ونې شته دي چې په دې ونو کې ورس په نوم ونه هم شته چې له همدې نوم سره هم نږدې والی لري.(سفر مارکیت ټکی کام).

د پورته لیکلو له لوستلو څو دومره وپوهېدو چې په فارسي ژبه کې دا ویی دوی د ورسک اتریشي پیغلې او د ورس له ونوو څخه را وتلی بولې، ولې په مقابل کې هفته نامه تجارت فردا په نوم پاڼه لیکي( ورسک تر اوسه پورې د هغې پیغلې انجلۍ چې د اتریش اوسیدونکې وه او د ورسک پل یې ډېزاین کړی دی منسوب بلل کېږي، خو د ورسک نوم په خپله د دې سیمې نوم دی چې هلته له ورس ونو او بوټو څخه اخیستل شوی دی(تجارت فردا، ۱۳۹۳ تمام راست و دروغ ها ورسک).

ورسک ویی اوسمهال هم د زیاتو خلکو د ویېزې ژبې برخه ویی دی چې ټول یې د هغې ځای او حالت لپاره کاروي چې انسان ورڅخه زر پنا کېږي لکه د مثال په ډول یو کس د غره له یوې څنډې څخه تېرېږي او هغه یې ژر پنا کړي نو بیا ورته وایي (پلانی دغه اوس په ورسک پناه شو) ان کله نا کله خو د کونج لپاره هم کارول کېږي چې د مانا پوهنې د علم له مخې یې مانا پراخه شوې ده او دا چې اصلي مانا یې له کوم ځای څخه را رغېدلې ده وروسته به پرې خبرې وکړو.

د ورسک کلمه چې اوس مهال په زیاتو سیمو کې متروکه شوې کلمه ده چې یوازې شکل او وینګ د ځایونو په کې موجود دی چې اوس مهال یې موږ زیاتې بیلګې په هېواد کې لرو. له دې ټولو خبرو داسې پایله پله لاس راځي چې د ورسک ویی ، ور، ورسۍ، در، دریچه، درڅه ټولې کلمې له یوې ریښې راو تلې دي. ورسک هم داسې در واخله لکه څنګه چې په پښتو ژبه کې موږ د ورسۍ کلمه لرو چې ار یې له وره څخه اخیستل شوی دی او په پای کې یې د سۍ برخه ور زیاته شوې ده او په ورسک کې یې هم همدا د ور ریښه او وروسته د سک برخه ور زیاته ده.

اوس که دې برخې ته راشو چې د ورسۍ او ورسک په کله کې یوازې په یوه کې ۍ او په بله کې ک په بدلون سره راغلي دي نو له دې داسې پایله تر لاسه کېږي چې ورسک نارینه او ورسۍ ښځینه نوم دی. دا چې ورسۍ له وره څخه وړه وي ښایي دا به د تصغیر روستاړی وي چې په مونث کې سۍ او په مذکر کې یې سک راغلی دی. دا چې ور په لږ اندازه خلاص شي نو دا وضعیت به د ورسک په نوم او هغه چې کوټې ته به رڼا ترې راتله هغه به ورسۍ بلل شوې وي. وروسته به یې د وخت په تېرېدو سره په مانا کې بدلون راغلی وي چې د کونج او د ژر پنا کېدو ځای ته به ویل شوی وي.

په پښتنو سیمو کې هغه ځایونه چې د ورسک په نوم یادېږي، زیاتره یې په داسې ځایونو کې موقعیت لري چې له هرې خوا د غرونو په لړۍ کې پناه وي او یوازې یوه لاره د ورتلو موجوده وي. له بله اړخه که په هوارو سیمو کې وي نو هلته به هم داسې ځای وي چې له شاخوا به پرې لوړې سیمې او یا غونډۍ وي نو دا خپله ښکاري چې د دې نوم ریښه اصلا له نیمه کوښه وره څخه راغلې ده. دا چې ورسک ار شکل او بڼه ده او که د وخت په تېرېدو سره یې مانا او شکل تغییر موندل او که بل کومه د راز خبره ده په دې به په لاندې ډول لومړي په اوستا او سانګریت ژبو کې د ور، سک او سۍ مورفیمونه وګورو چې دا له اره د څه لپاره کارول کېدل او اوس مهال یې بل شل په پښتو او دري ژبه کې شته او که نه.

د فارسي انلاین سیندګي د څرګندونو په برخه کې د محسن په نوم یو کس ورته لیکلي دي( سی کلمه په فارسی ژبه کې کونج، ګوښې او لیدلو مانا لري) له دې سره چې له فارسي ژبې دا د کونج مانا را واخلو نو په پښتو ژبه کې د ورسۍ کلمه چې ښځینه ده، همدا ډول د کونج د وره مانا لري.

له دې وروسته به راشو د ورسک برخې ته چې دا هم په پښتو ژبه کې له سکه ( نږدې) کلمې سره یو شان ښکاري نو ښایي چې دواړه سک او سکه د نږدې په مانا وي. دا چې سک ویی مو لږ او ډېر وپیژانده نو اوس به د دې ویی چې ورسک ده، د مانا د پلي کېدو خبرې وکړو. د ورسک د دواړو برخو مانا دا ده چې له ور سره نږدې یانې هغه ځای چې په مازې وتلو سره ترې پناه کېږي د ورسک په نوم یادېږي. دا چې زیاترو سیمو ته دا نوم کارول شوی دی لوی لامل یې دادی چې دا کلي او سیمې په داسې ځایونو کې پرتې دي چې یوازې له غره یا له بلې خنډه واوړې نو د سترګو په رپ کې پناه کېږي لکه د وره له پورې کېدو سره چې انسان پناه کېږي ځکه ورته ورسک ویل شوي دي.

له دې پورته خبرو سره که اوس د ار پوهنې د اصولو له مخې یې که په رڼو کلمو کې وشمارو نو له ورایه ښکاري چې په دې ورسک کلمه کې دوه برخې راغلې دي چې یو یې ور دی او په دري ژبه کې ورته در ویل کېږي. بل برخه یې سک کلمه ده چې اوس د پښتو د ژبې د ارونو له مخې فولوژیکي بدلون پکې رامنځته شوی دی او د خ توری په س توري بدل شوی دی. موږ ویلی شو چې د ورسک کلمه د پښتو اوسني ورخک سره معادله ده. همدا ډول د دري ژبې د کله کشک ویی لپاره معادل توری همدا ورخک او یا ورسک کارولی شو.

**پای**


ZERAI
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

**Editor - In - Chief:**
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (Ph.D)

**Assistant:**
Assistant Professor Pashtoon Pashtoon

*Compose & Layout Design:*
Dr. Khawreen

**Address:** Center for Languages & Literature, Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Shahr-e-Naw Kabul - Afghanistan
**Contacts:** (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
**Email:** zerai1316@asa.gov.af/ zerai1316@gmail.com